د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

## رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**آغلې رادهیکا کوماراسوامی، د ملګروملتونو ځانګړې استازې د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره او**
**علیم صدیق د یوناما د ویاند د دفتر سرپرست**

*کابل- د جولای د میاشتی دریمه نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما:** آغلیو او ښاغلیو سلام علیکم او سهار مو نیکمرغه. زما نوم علیم صدیق د یوناما د ویاند د دفتر څخه یم. خوښ یم چی نن زموږ سره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره آغلي رادهیکا کوماراسوامی او ښاغلی لوی جورج د یونیسف د بیرنی پروګرامونو مشر ملتیا کوي. ځانګړې استازې نن خپل پنځه ورځنی سفر په افغانستان کی پای ته رسوي. مغوی افغانستان د افغان حکومت په بلنه راغللی ده څو د شخړی اغیزی په افغانستان کی پرماشومانو باندی د لومړی ځل لپاره وارزوې. پس له هغي د وینا څخه موږ په خوښی سره ستاسو پوښتنه ته به ځواب ووایو.

**آغلې رادهیکا کوماراسوامی، د ملګروملتونو ځانګړې استازې د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره**

ستاسو ټولو څخه مننه،
څرنګه چی تاسو پوهیږي زه د افغانستان د حکومت په بلنه راغللې یم او زما سره ښاغلی لوی جورج د یونیسف د بیرنی پروګرامونو مشر په دی سفر کی ملتیا کوي.

سږکال د می په میاشت کی د ملګرو ملتونو د امنیت شورا کاری ګروپ د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره افغانستان د خپل تربحث لاندی ونیو. او سږکال د اکتوبر په میاشت کی به د افغانستان د ماشومانو په اړه یو هر اړخیزه ریوټ امنیت شورا ته وړاندی شی.

زما د سفر یوه مهمه موخه دا وه چی د د څار او ریوت ورکونی د ریوټ بهیر را منځ ته کړم. ما د کابل، جلال آباد او ګردیزڅخه لیدنه وکړه، ما د ښاغلی ولسمشر حامد کرزی، حکومتی وزیران، آیساف، نور نظامی ځواکونه، نړیوالی اداري، افغانی او بهرنی انجوګانی ، مذهبی مشران و د ماشومانو سره لیدنی کتنی ترسره کړي.

زه باید دا په ډاګه کړم چی ما د خپلو خبرو اترو په ترڅ کی د ماشومانو، کورنیو، افغانی انجوګانی او مذهبی مشرانو سره یو ډیر په زړه پوری پوهه د افغانستان د ماشومانو په اړه ترلاسه کړه.

د ټولو لومړنی اندیښنه د امنیتی اوضاع خرابیدل وو. یوه عمومی اندیښنه دا وه چی ټولو ویل بی امنی او تاوتریخوالی به لا نور هم ډیر شي. بیرنی ضرورت شته ترڅو ټول ممکن او مناسب قدمونه د پخلاینی په شمول چیری چی امکان لری پورته شی ترڅو چی د امنیت د ستونزی د هوارولو څخه ډاډ تر لاسه شی.

د ماشومانو په وړاندی یو جدی تاوتریخوالی په وسله والو شخړو کی د هغوی وژنه او ټپی کیدل دي. موږ د ډیرو هغه قربانیانو سره ولید چی د طالبانو او دولت ضد عناصرو د فعالیتونو په ترڅ کی قربانی شوي وو. موږ همچنان د نړیوال نظامی ځواکونو د عملیاتو د قربانیانو سره ولید. د هغه ماشومانو سره مو ولیدل چی د هوایی بمبارد، د شپی برید او داسی نورو عملیاتو په ترڅ کی ټپی شوي وو. موږ د آیساف او امریکایی ځواکونه سره خبری اتری درلودی او په دی خبري وشي چی په څه ډول د دی اړخیز ویجاړتوب څخه مخنیوی وشی او دهغی لپاره ښکاره لاربسوونی او کړنلاري رامنځ ته شي. دا مهمه ده چی باید داسی اقدامونه رامنځ ته شي چی د زورزیاتی څخه مخنیوی وشي، چټکی څیړنی پیل او کو چیری ضرورت وی نو په کافی کچه د اوختی تاوان جبران دی ورکړشئ.

دوهم جدی تاوتریخوالی د ماشومانو په وړاندی په وسله والو شخړو کی د هغوی ګمارل او دهغوی څخه د جګړی لپاره استفاده ده. موږ د اعتبار وړ معلومات په لاس کی لرو چی ښایی د ماشومانو څخه په تیرو څو میاشتو کی استفاده په جګړه کی ډیره شوي ده. موږ همچنان د داسی جلا جلا پیښو تفکیک شوي ریوټونه لرو چی د ماشومانو څخه د ځان وژونکو په توګه استفاده کیږی. دا یو ډارونکی وضعیت دی او امید کوو چی د ټولو له خوا د دی له منځه وړلو لپاره کلک ګامونه پورته شئ.

موږ پر دی ټینګار کوو چی طالبان باید په دی پوه شی چی ۱۹ مه ماده وایی چی مجاهدین دا اجازه نه لري چی هغه ځوان هلکانو څخه چی پر مخ یی ویښتان نشته د جګړی په ډګر کی او په خپلو مرکزونو کی وساتئ.

په هم دی وجه موږ د ټولو اړخو څخه په ځانګړی ډول د دولت ضد عناصرو څخه په ټینګه غوښتنه کوو چې د ماشومانو څخه دی د جګړي په ډګر کی کار وانخلئ.

موږ داسی رپوټونه هم لرو چې ماشومان د افغان پولیس ځواک سره د هیواد په بیلابیلو برخو کی شته. په دی اړه مو د کورنیو چارو وزارت او امنیت ملی ریاست سره خبري کړي ترڅو دا مسله حل شی.

د هغه ماشومانو په اړه چی پس له نظامی عملیاتو څخه نیول کیږی، موږ اندیښنه لرو. آیساف په دی اړه چی څومره ماشومان د هغوی په قید کی موږ ته کره شمیره راکړی، خو د افغانی چاراواکو او امریکایی قواوو له خوا موږ ته کومه شمیره نه ده راکړ شوی. داسی ښکاری چې هیڅ څوک هم د لارښودنو او د عملیاتو د ستندرد کړنلاری په اړه واضح معلومات نه لري. هیله کوم چی دا رپوټ به یو فرصت وی چی دهغه سره په استفاده موږ وکړای شو دا کړنلاري رامنځ ته کړو.

څرنګه چی تاسو د نړی د نورو برخو څخه پوهیږی، د ماشومانو ساتته په قید د دی لامل ګرځی چی هغوی په سخت او کلکو وګړو بدلوي او په دی ډول باندی د تاوترخوالی کړی څرخیږي.

موږ پر ښوونځیو باندی د بریدونو له امله اندیښمن یاستو. د بریدونه هغه ماشومان وژنی چی په بشپړه توګه به ګناه دي. او دا رنګ کړني د ټول مدنی سلوکو د نورمونو پرخلاف دی او نړیوالو قوانینو او د سترو مذهبونو د ارشاداتو په خلاف دي. ټول ټال ۲۲۸ ښوونځي په تیرکال کی تر برید لاندی راغللي دي چی په پایله کی ۷۵ تنه مړه او ۱۱۱ تنه ټپي شوي دي. په کال ۲۰۰۸ کی ۸۳ ښوونځي تر اوسه پوری د برید لاندی راغللي دي.

موږ د هلکانو په وړاندی د جنسی تاوترخوالی ادعاګانی ترلاسه کړی دی. افغان مدنی ټولنه په ځانګړی ډول د بچه بازی په اړه د نظامی قوماندانو له خوا اندیښنه لري. دا عمل باید له منځه ولاړ شی ولی چی دا د بشری قوانینو پرخلاف دی.

په پای کی زه د خپل همکار جان هومز په شان غواړم پر دی ټینګار وکړم چی د په افغانستان کی جدی بشری ستونزی شته. موږ د ټولو اړخونو دا غواړو چی بشری کارکوونکو ته دی اجازه ورکړئ. موږ په دی باور یو چی نظامی فعالیتونو او بشری فعالیتونو باید یو دبل څخه جلا شی. دا د بشری او نظامی فعالیتو ترمنځ توپیر له منځه وړی او د بشری کارکوونکو ژوند په خطر کی اچوي. دا مهمه چی بشری فضا باید پراخه شي او ټول ښکیلي خواوی بشری فعالیتونه چی د ماشومانو د ملاتړ لپاره دي په پام کی ونیسی او درناوی ورته وکړي.

په دی اړه زما همکاران د یونیسف څخه یوه نظریه وړاندی کړي ده چی د کراریو د ورځو په نامه یادیږي. په کال کی د څلورو ورځو لپاره ټولی خواوی کراری غوره کوي ترڅو ماشومان د ګوزن په وړاندی واکسین شی. تیرکال یو کمپاین په دی اړه په لاره اچول شوي وو چی بریالی ثابت شو. موږ هیله کوو چی دا کار دوام ومومی او ماشومان واکسین شی او ښوونځي د سولی د سیمو په حیث وپیژندل شئ.

## د پوښتنو او ځوابونو برخه:

**نورین تلویزیون:** تاسو د ځینو ډګرونو په تیره بیا د نظامی عملیاتو په اړه چي د ایتلافی ځواکونو لـه خوا ترسره کیږي او د ماشومانو د مړینې او معیوبتیا لامل ګرځي خپلـه اندیښنه څرګنده کړه. د هغو ماشومانو شمیره څومره ده چي ددغو عملیاتو په نتیجه کې وژل شوي دي؟ دوهمه دا چي تاسو د زیاتو ماشومانو په استخدام باندې هم اندیښنه ښکاره کړه چي د دولتي ضد عناصرو له خوا د جنګیالیو په توګه استخدام کیږي. د دغو ماشومانو شمیره څومره ده؟ تاسو همدارنګه جوته کړه چي ماشومان په توقیف کې ساتل کیږي. تاسو کولای شئ په دې اړه یوه شمیره موږ ته راکړئ؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره:** زه د هغو ملکیانو شمیره چي وژل شوي دي لرم، خو زه د هغو ماشومانو شمیره چي وژل شوي دی نه لرم. دا ډیره ستونزمنه ده چي د دغې شمیرې یادونه وشي. هغه څه چي موږ ته یې خلک وایي او دا هم یوه فرضی شمیره ده، چې

انجوګانو په شمول د حکومتي چارواکو څخه تر لاسه شوي ده. دا چې د ماشومانو استخدام او کارونه پخوا دومره ستونزه نه وه خو تیر کال او په تیره بیا په تیرو څو میاشتو کې د ماشومو جنګیالو په شمیره کې زیاتوالی لیدل شوی دی. نو ځکه دا هغه څه دي چې موږ باید نوره څیړنه وکړو او هیله کیږي چې د اکتوبر د میاشتې په رپوټ کې د دې یو ښه انځور تر لاسه شي. او هغه څه چې په زندان پورې اړه لري موږ بیا هم دقیقه شمیره نه لرو. یوازې ایساف موږ ته هغه شمیره راکړې ده چې دوې ماشومان نیولي او بیرته یې ازاد کړي دي، خو بل هیڅا موږ ته دغه ډول ارقام نه دي راکړي. موږ به تاسو ته د ایساف ارقام وروسته درکړو.

**آل آنډیا راډیو:** تاسی د هغه پراخ زیان په هکله خبري وکړي چې د اسیاف او ځانګړي ځواکونو له خوا منځ ته راغلی دی. دا ډول پیښی په دا تیرو اوو کلنو کې پیښ کیږی. په خاص ډول تیر کال په جلال آباد کی ۱۹ کسان د ایتلافی ځواکونو له خوا ووژل شول او همدارنګه سږ کال بیا تقریباً په اوو ورځو بمباریو کې د نیمروز په ولایت کې ۱۷ کسان ووژل شول چې ځینی یې یاغیان وو ، ځینی د ماشومانو په ګډون ملکیان وو. د نړیوالو چارواکو او نور کسانو د وړاندیزونو سره بیرو دغه دوه اړخیز توان لا هم دوام لري. تاسی څه فکر کوئ چې دغه کار به څنګه سم شی؟ دویم تاسی په دی هکله خبري وکړی چې ماشومان د افغانی پولیس له خوا جګړی ته ګمارل شوي آیا تاسی په دی هکله کومه شمیره لرئ؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره:** اجازه راکړئ چې په دي خبره یې پیل کړم چې د دوه اړخیز زیان موضوع ګانو په اړوند، موږ دواړه د ایساف او ځـآنګړي قواو سره خبري کړی. هغوي موږ ته ډاډ راکړي چې تدابیر نیسی ایساف موږ ته مفصل طرزالعملونه او لارښودونه راکړه چې هغوي تیر کال په دي اړوند ترتیب کړیدي. خو بیشکه چې موږ لا هم له ملکیانو څخه اورو چې دغه کار دوام لري. نو موږ احساس کوو چې کله دا ډول تدابیر نیول کیږی باید یو ډول غبرګون منځ ته راشی او کله چې دغه کار واقع کیږی باید چټکه څیړنه وشی او د باور وړ تحقیقات تر سره شی، قربانیانو ته باید تلافی ورکړ شی. نو زه له دا نورو سره د دغه کار غوښته کوم. د افغان پولیسو له خوا د ماشومانو د ګمارلو په اړوند باید ووایم چې موږ کومه شمیره نه لرو خو موږ عینی شواهد لرو.

**د آریانا تلویزیون:** د افغان حکومت، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د ماشومانو د ملاتړ موسسو تل په هیواد کې د ماشومانو د حالت په اړه خپلې اندیښنې څرګندې کړي، خو اندیښني بې پایلې وې. د افغان حکومت او ملګري ملتونه څه کولای شي چې د ورته پیښو د واقع کیدو او ماشومانو ته د زیان رسیدو مخنیوی وکړي؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره::** لومړي، د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو سره د چلند په برخه کې له معافیت څخه کار اخیستل کیږي. وګړي د ماشومانو د حقونو پایمالولو ته پرته له دې احساس څخه چې ترې پوښتنه به وشي دوام ورکوي. نو دلته د دې اړتیا ده چې عدلی نظام ځواکمن شي چې دغه پیښې محکمې ته راشي او د معافیت مخنیوی یې وشي. له بلې خوا د مور او ماشوم د مړینې شمیرې د بې سوادۍ د شمیرو سره ډیرې ټیټې دي او په نړۍ کې تر ټولو ستونزمنې دي. یونیسف او دروغتیا نړیوال سازمان هلته چمتو دي چې په سترو کمپاینونو کې مرسته وکړي څو چې په هیواد کې د بنسټیزو خدمتوو کچه لوړه کړي او دغه شمیرې هم اصلاح شي.

**یونیسف:** تر ټولو بنسټیز اصل دا دی چې موږ هر ځای ډیرو بې وزلو ماشومانو ته رسیدنه لرو او همدا وجه ده چې د سرمنشي ځانګړی استازی په خپله معلوماتي وینا کې او په خپل رپوټ کې په دې تاکید کړی دی چې بشري مرستې ورسیږي چې هغه ډیرې را کمې شوي دي او څه باید وشي چې ماشومانو ته پرته د سیاسی ملحوظاتو څخه رسیدنه ولرو. دا هغه اصل دی چې موږ د هغه ملاتړ کوو او د دې لپاره جدي تبلیغ کوو.

**د کلید راډیو:** د دې حقیقت په پام کې نیولو سره چې د افغانستان ۵۰ په سلو کې وګړو د شل کلنې څخه په کښته عمر کې دي. زه غواړم چې پوه شم چې ستاسو د دې هیواد څخه د لیدنې پر مهال څرنګه ارزوئ، څومره ماشومان تر ګواښونو لاندې دي او ددغو ګواښونو نوعیت څه دی؟ زما دوهمه پوښتنه له یونیسف څخه ده، سعودي عربستان په تیرو ورځو کې ۱۳ ماشومان له هغه ځایه شړلی دي او ۱۴ یې همدا اوس شړلې دي د چا چې کورنۍ په سعودي کې پاتې دي، یونیسف په دې اړه څه کولای شي؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره:** ما په دې وروستیو کې د نجونو له ښونځی څخه کتنه ترسره کړه، ما په دې ښوونځي کې له هغوي څخه د اساسي ستونزو پوښتنه وکړه، هغوي ما ته وویل چې د هغوي ډیر دوستان ښوونځي ته ځي، ځکه چې کورنۍ ورته اجازه نه ورکوي، دوهم دا چې افغان ماشومان د ډیر سخت کار سره سره زده کړې هم کوي، دریمه دا چې ځینې وختونو دا د هغوي لپاره ستونزمنه وي چې د عنعنو له وجې زده کړې ترسره کړي، څلورمه دا چې نجوني د امنیت لـه املـه نه شي کولی زده کړې وکړي. دا هغه څلور عوامل دي چې د ښوونځي نجونو د هغو په اړه ما ته یاد ونه کړه.

**یونیسف:** د هیواد د ننه د ماشومانو قاچاق هغه ستونزه ده چې د یونیسف په اجنډا کې په لوړه کچه مطرح ده او دا د سیمې په کچه د ډیرو کلونو لپاره مطرح ده. موږ د ډیرو حکومتونو سره دا مساله تر بحث لاندې نیسو، موږ په ډیرو هیوادونو کې په دې بریالی وو چې ماشومان بیرته راولو. موږ د حکومت سره په تماس کې یو چې دا مساله حل کړو. افغانستان یوازې هغه هیواد نه دي چې ورته پیښې په کې په پریمانه توګه واقع کیږي، خو په څرګنده سره دا یوه ستره اندیښنه ده او دا د بیلا بیلو اړخونو له لارې د حکومت په شمول حل غواړي.

**تمدن تلویزیون:** د بشري حقونو کمیسیون وویل چې په بګرام او ګوانتانامو کې د ایتلافي ځواکونو لـه خوا ۱۳ ماشومان توقیف شوي دي، تاسې د هغوي د مصؤنه خلاصون لپاره څه کړی دي؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره::** موږ د بشري حقونو د کمیسیون لـه خوا کره شمیره نـه لـرو، د امریکا د متحده ایالاتو خارجه وزارت د ۱۰ شمیره څرګندوي او قوماندانان دلته دا نه څرګندوي، هغوي وایي چې د ۱۵ او ۱۸ کلونو نه ښکته عمر لرونکي ماشومان په توقیف کې نه لري، نو ځکه دلته یو ډول مغشوشتیا شته. موږ په دې هیله یو چې د هغه ریوټ په ترڅ کې چې د اکتوبر په میاشت کې یې د امنیت شورا ته وړاندې کوو موږ به په سیستماتیکه توګه دغه معلومات راټول کړو په تیره بیا د ماشومانو د توقیف په اړه. لومړی به موږ د شمیرو په اړه پوره دقت ولرو او دوهمه دا چې هغه طرزالعمل چې د دې ماشومانو لپاره کارول کیږي دقیق وي. موږ به دا کره کړو ځکه چې دلته یو ډول نا څرګند حالت موجود دی.

**د آزادۍ راډیو:** کله چې تاسو کره شمیرې په لاس کې نه لرئ، نو بیا څرنګه کولای شي ادعا وکړئ چې په هیواد کې په دې تیرو میاشتو کې د جنګیالیو ماشومانو شمیر زیات شوي؟ که چیرې حالات په ورته ډول دوام و مومي پایلې به یې څه وي؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره::** اجازه راکړئ و وایم چې موږ د کره شمیرې په هکله څه نه شو ویلای، خو موږ د منابعو له لارې او د دولتي چارواکو سره د لیدنو کتنو په صورت کې کولای شو یو څه معلومات ولرو چې کره کولو ته اړتیا لري. نو په دې توګه هیله من یو چې په اکتوبر کې به موږ یو څرګند تصویر ولرو. دا د پخوانی وخت تجربه نه ده، دا چې په دې شمیره کې زیاتوالی راغلی دی چې موږ یې په اړه اندیښنه لرو، او دا کیدای شي چې له پولې څخه د تیریدو په خوځښتونو پورې تړاو ولري او دا هغه څه دي چې باید موږ ورته توجه وکړو.

**آزاد خبریال:** زه له تاسو څخه غواړم په ځانګړې توګه په دې پوه شم چې له کومو میکانیزمونو څخه د ځیرنې په ارګانونو کې کار اخیستل کیږي، چې تاسو د هغو یادونه وکړه. هغه مسالې چې د تنکیو ځوانانو د توقیف په ډیټا پورې اړه لري، معلومات راکړئ، خو د هغه ماموریت له مخې چې د امریکې حکومت یې په خپله هلته لري چې ۱۰ کسه یې پرته له محکمې ساتلي دي، آیا هغوي کومې قانوني مرستې ته اړتیا نه لري؟ هغوي ته کورنۍ نه شي رسیدلی او د هغوي لپاره د زده کړې او استراحت اسانتیاوې نشته، آیا دا د دې خلاف نـه ده هغه څه چې تاسو یې ترسره کوئ؟ همدارنګه دا د عدلی سکتور لپاره ناوړه نمونه نه ده، چې په دې هیواد کې د نړیوالې ټولنې په مرسته جوړیږي؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره:** د ځیړنې او رپوټ وکولو میکانیزم د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۶۱۲ ګڼې پریکړه لیک پر بنسټ جوړ شوی دی او دا د هیواد په کچه د ځواک یوه کاري کمیټه جوړوي، چې د ملګرو ملتونو له خوا یې مشري کیږي، خو د خپلواکو انجوګانو او خپلواکو دولتي موسسو په ګډون دا به یوه داسې کاري کمیټه وي چې ورسره به د فرعي سیمه ییزو کمیټو په کچه هم ځینې ځانګې ولري. دغه کاري کمېټې به معلومات راټولوي. معلومات به معمولا د هغو پیښو

په اړه وي چې په کې د توقیف پیښې هم شاملې دي. دلته به شمیرې کره کیږي. موږ په تیرو وختونو کې چیرته چې زه په عراق کې وم او موږ د امریکایي نظامي چاړواکو سره دا مساله راپورته کړه چې د ماشومانو په نظامي ځایونو کې توقیف ښه مفکوره نه ده او که چیرې داسې وي نو د هغوي شمیره او ورسره د چلند طرز العملونه باید شفافه وي. موږ په دې اوس هم تاکید کړی دی. زه باید دا و وایم چې موږ دې ته هیله مند یو چې د دې رپوټ د لیکنې پر مهال موږ به معلوماتو ته رسیدنه ولرو چې په دې پوه شو چې څه ترسره کیږي؟

**ایرین:** آیا تاسی د ماشومانو څخه د ناړوه جنسی ګټې اخیستنې په هکله ړنا اچولی شئ او هم دغه جریان څومره جدي دی او د مخنیوی لپاره یې کوم ګامونه اخیستل شوي دي؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره::** لکه چې تاسی پوهیږئ دغه جنسی تاوتریخوالی په یوه عنعنوي ټولنه کې یوه مشکله موضوع او پټه ده. زه باید ووایم چې موږ د ښځو پر ضد ډیر قضیې نه دي اوریدلی خو موږ له محلی افغانی سرچینو څخه د هلکانو پر ضد جنسی تاوتریخوالی اوریدلی ده او دا زمایه اختیار کې راغلل ځکه د هغو یو شمیر یوځی قومندانان دي. موږ تر دی زیات نه پوهیږو. یواځی دا چې دا موضوع په ګوته کړو او موږ هیله من یو چې په راتلونکی کې به دغه وځیړو او ساحه به یې تثبیت کړو.

*د ایرن پر له پسی پوښتنه:* آیا دا د هغه یو ډول معافیت او مصونیت له کبله ده چې کوم قومندانان دغه کار کوي تیری ګڼه اخلی. آیا تاسی فکر کوي دغه د معافیت له کبله ده؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره::** دا غیر قانونی او جنایی عمل دی.

**صبا تلویزیون:** د ماشومانو پر ضد د تاوتیرخوالی د شمیرو نښتوالی سره سره، آیا تاسی کولای شئ د افغانستان د ماشومانو حالت د نورو ورته هیوادونو سره پرتله کړئ چې هلته وسله والی شخړی شته؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره::** زه فکر نه شوم کولای چې د دنیا په هیڅ ځای کې ماشومان د افغانی ماشومان په پرتله زیات ځوروریږی. ځکه دلته یوازی دغه ناوړه تاوتریخوالی نه دي چې د ماشومانو پر ضد د جګړي په بهیر کې پیښیږی. بلکې هم دا شان هغه ناوړه بیوزلی او ستونزمن کار هم دی چې ماشومانو ورسره مخامخ دي.د ماشومانو سره زموږ په ټولو ملاقاتونوکې ډیر وخت نیسی چې څوک وکولای شی هغوي وخندوي. زما لپاره دا دی څرګندوي ده چې د هغوي په زړونو کې خوشحالی نشته.

**ویاند:** تاسو ټولو څخه ډیره مننه.

---